ليکوال: پوهنمل حاجی محمد نوزادی نیټه ۲۸-۰٤-۲۰۱۱

# د « ژړ خطر» پوتنشیال او د« سپین خطر» واقعیت

( لومړی برخه)

یوه ورځ په ازاد دایرة المعارف کی د یوی ځانګړی موضوع پخاطر سرګردانه ګرځیدم چی سترګی می د « **ژړ خطر**» پر سرلیک ولګیدی. زه چی له ډیر وخت راهیسی ددغی خبری په فکر کی وم، نو می هغه پرانیست او دچا خبره یو ځل پری تیر شوم. امریکا او د لویدیز ځینی هیوادونه چی په راتلونکی کی ددی خطر نه ډار لری، سر د اوس نه یی د بباوو په توګه خلګو ته ور پیژنی نو هغه (**سپین خطر**) چی همدا ګړی ددوی په مټ روان دی، هم پکار ده چی پام ورته واړول شی. په هر حال، ددغی سرچینی نه می لاندی کرښی سره را غونډی کړی او د خپل نظر په پام کی نیولو سره یی چی دامهال ورځ تر بلی ګرمیدونکی موضوع ده، تر لوستونکو پوری یی رسوم:

«**ژړ خطر**» دا هغه اصطلاح ده چی د اسیایی د مخ پر چټکی ودی او لسونو لخوا یی لودیز د ځان دپاره د خطر د پوتنشیال په توګه یادوی. دا اصطلاح دلومړی ځل دپاره د ( **پول لیرویا بولی** ) پنامه یوه فرانسوی ژورنالیست لخوا په نونسمه پیړۍ کی و کارول شوه اود « **ویښ شوی ختیز** » تر نامه لاندی یی په یوی لیکنی کی یاددونه تری کړی ده چی هلته یی په ځانګړی توګه دچین او جاپان هیوادونو ته ګوته نیولی ده. دغه په فرانسه را زیږیدلی اصطلاح ده چی وروسته یی و نورو امپریالیستی او پرمخ تللو هیوادونو ته لکه جرمنی، د برتانیی امپراتوری، امریکا او نورو ته چی په ختیز کی یی راز راز ټاکلی ګټی درلودی، لاره وموند. په وروسته کی د جرمنی امپراتور (**دویم ویلهیم**) دا اصطلاح خورا زیاته کاروله او دده له برکته یی په اروپاکی وټولنیز- سیاسی قاموس ته ورننوته. دامهال نوموړی اصطلاح یواربیا د « **اسیایی پړانګانو** » په شکل د چین اولسی جمهوریت د بیساری چټکی ودی سره سر راپورته کړی دی، خو زما په اند یی داځل توپیر پدی کی دی چی هغه وخت یوازی لودیز دخطر ددغه پوتنشیال نه سر ټکاوه، ولی اوس روسیه هم چی وروسته به یی یادوونه وشی د ظاهری دوستۍ سره سره تری نه تر ټولو په ډار کی ده او زه فکر کوم ښایی په لیرلید کی همدغه خبره ددی لامل شی چی روسیه به دچین له ډاره ځان د امریکا او لودیز غیږی ته واچوی.

د چینایانو کډوالی تر ډیره وخته یوازی د امریکا په هاوایی ایالت چیری چی اسیایی وګړی دریمه برخه جوړوی او کالیفورنیا کی چی اسیایان ۵،۲ ٪ دی محدوده وه. په امریکا کی ډیری چینایان، جاپانیان او کوریایان په دودیز ډول د چایناټاوون پنامه په تړلو ګیټو سیموکی ژوند کاوه چی په حقیقت کی د نژادی توپیر ښی بیلګی وی او ډیر وختونه نوموړی کسان د « سپینو امریکایانو » لخوا په ډله ایزه توګه وژل کیدل. د برتانیا په ډیرو مستعمره هیوادونو کی لکه کاناډا او استرالیا کی د ۱۹ پیړی تر نیمایی پوری دغه ته ورته حالت روان وو.

**جاپانی خطر** ( ۱۹۷۰ ـ ۱۹۸۰ اتیایم کلونه ):

د تیری شلمی پیړۍ په اویایمو او اتیایمو کلونو کی د جاپان چټکی تخنالوژیکی او مالی پرمختیا لودیز اقتصاد پوهان و دی اړ ایستل چی د جاپانی خطر اصطلاح رامنځته کړی. مګر د ۱۹۹۰ کلونو را پدیخوا په نړیوال اقتصادی ډګر کی د چین د رامخته کیدو سره سم جاپان دخپل اقتصادی موقف دلاسه ورکولو سره مخامخ شو او ورسره جوخت یی د خطر ډار هم مخ پر کمزوری کیدو شو.

**ننۍ ډار – چینایی خطر :**

چینایی خطر ( China threat یا Chinese danger) اویا هم **ژړ خطر** ( Yellow Peril ) - دا دهغو منفی پایلو ګډه مانا ده چی دشلمی پیړی په پای او یوویشتمی پیړی په پیل کی دنړۍ بیلابیل هیوادونه ځانونه د چین د بیساری چټکی اقتصادی او تخنالوژیکی ودی لخوا په خطر کی وینی. زما په نظر دا ډار دهغی مقولی عملی پایله ده چی ( **سیاست د اقتصاد شیره اوزبیښلې بڼه** ) بولی.

د چین د زیاتیدونکی رول زښې هغه ریفورمونه ول چی د ۱۹۷۰ کلونو په پای او د ۱۹۸۰ کلونو په پیل کی د **دیان شاوپن** لخوا منځته راغلل. د دی ریفورمونو له مخی خصوصی ملکیت ته اجازه ورکړل شوه او دچین سرحدونه پرانیستل شول. د دی سره سم په خارجی سیاست کی هم داسی بدلون راغی چی دنوموړی اقتصادی سیاست ټینګ ملاتړ یی کاوه. په لومړی سر کی دچین وده دنورو هیوادونو دپاره یوه لاسته راوړنه ګڼل کیده، ځکه چی ددی لاری ارزانه مال ترلاسه کیدی او د چین وبازارته دنورو پرمختللو هیوادونو لاسرسۍ پیدا شو. خو داچی ګټه هیځکله هم وړیا نه ترلاسه کیږی نو ډیر ژر ددی ګټو دسکی بل مخ را څرګند شو. ان په ۱۹۹۰ –یمو کلونو کی ځینو څیړونکو په بیلابیلو برخو کی د چین د ګټو څخه و رانژدی کیدونکی خطر ته پام واړاوه.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د چینایي خطر لاملونه :**

امریکا او دنړۍ نور صنعتي او پرمختللي هیوادونه په بیلابیلو برخو کې دچین نه دخطر څخه په ډار کې دي چې زما په اند د دغو ټولو خطرونو ریښې د چین د اقتصادي ودې نه اوبه اخلي. د دې خطر اساسي لاملونه په لاندې ډول یادوی: ۱- **اقتصادي خطر:** همدغه خطر زه د نورو ټولو هغو خطرونو چې امریکا او لویدیز ورنه ډاریږي، مور ګڼم. د ۱۹۸۰– یمو کلونو له پیل نه د چین اقتصاد په نړیواله توګه بیساری پرمختګ وښود چې کلنۍ جګوالي یې تر ۱۰٪ پورې ورسید. دې چټکې ودې په ۲۰۱۰ کال کې چین د اقتصادي ورتیا له مخې د نړۍ دویم هیواد وګرځاوه. د دغه جګوالي لاملونه بیا د چین پراخ دموګرافیک امکانات، کلتوري ځانګړتیاوې چې د زده کړې اوزیار دود ورسره وو یادولای شو. داسې فکتورونه هم د یادوونې وړ دي چې ځینې لویدیز څیړونکي یې بې انصافه رقابت بولي، لکه:

**الف** – د اقتصاد ملاتړ کوونکي دولتي سیاست: چین د نړیوالي ازادې سوداګرۍ د امکاناتو څخه په خارج کې د خپلو تولیداتو په مټ د بازار داشغال په موخه فعال کار اخلي چې ورسره سم په خپل داخلي بازار کې په بیلابیلو ډولونو د خارجي تولیداتو او احتمالي رقیبانو د راتلو مخه نیسي.

**ب** - اسعاري سیاست: چیني دولت د لسګونو کلونو په اوږدوکې دخپلو پیسو – یوهان ارزښت ډیر ټیټ ساتلي چې داکار دچینایي مالونو دصادراتو په زیاتیدو کې مرسته کوي. د ډیرو سوداګرو اندیوالانو د وار وار غوښتنې سره سره دوی دخپلو پیسو د ارزښت ولوړولو ته پام ندی اړولی.

**ج** – د معنوي او فکري ملکیتونو غلاکول: چین پدې تورن دی چې د نورو هیوادونو د پوهې لاسته راوړنې او اختراعاتو څخه غیرقانوني ګټه پورته کوي.

**د** – پر زیرمو باندې کنټرول لګول.

**ه** – د پرمختللو هیوادونوټولنیز اقتصادي بازار تهدیدول.

**ز** – مالي پوټنشیال او د طلایي اسعار زیرمه کول: د ۲۰۱۰ کال تر جون میاشتې پورې دچین دطلایي اسعارو زیرمه ۴۵،۲ تریلیون امریکایي ډالرو ته ورسیده چې له برکته یې کولای شي د نورو هیوادو په وړاندې ورنه دتهدید په توګه کار واخلي.

۲ – **د جنګي وړتیاوو لوړول:** چین همدا اوس په نړۍ کې ترټولو ستر اردو لري چې ۵،۲ میلیون تنه هلته په بالفعل خدمت بوخت او نژدې یو میلیون نفر هم په ریزرف کې لري. چین همدارنګه په پرله پسې ډول خپل اردو موډرنیزه کوي. چین سره لدې چې دخپلو ګاونډي هیوادونو سره بې شمیره سرحدي جنجالونه لري خوبیا یې هم مستقیمې شخړې ته لاس ندی اچولی، مګر په ۱۹۹۰ – ۲۰۰۰ کلونو کې یې څو ځلې خپلې سرحدي دعوې دسیاسي لارو څخه مطرح کړیدي. د یادونې وړ ده چې په نژدې راتلونکې کې دچین لخوا څخه دعملي جنګي خطر وړاند وینه نه کیږي. داځکه چې چینایي واکداران اوس له هر څه نه زیات خپل دهیواد اقتصادي پیاوړتیا ته ډیره پاملرنه کوي او غواړي چې د اقتصادي متودونو په مټ نړیواله هژموني تر لاسه کړي.

۳ – **دموګرافیکي پرمختیا :** د ۳،۱ میلیارد تنو وګړو په درلودلو سره چین دنړۍ تر ټولو ګڼ شمیره نفوس والا هیواد دی. د وګړو دکمولو هغه سیاست چې یوې کورنۍ ته یوازې دیوه ماشوم دزیږولو حق ورکوی، په ۱۹۸۰ – ۱۹۹۰ کلونو کې یې وکړای شول چې تر یوې ټاکلې کچې د وګړو دجګوالي چټکتیا را ټیټه کړي، مګر د۲۰۰۰ کال را پدې خوا دا سیاست په ډیر جدیت سره نه تعقیب کیږي چې دا کار ددې لامل شوی څو د وګړو دزیاتیدو چټکوالي بیا لوړ ولاړ سي. دچین په دننه کې د وګړو دا ډول ډیروالي خلګ اړباسي چې دچین نه و نورو هیوادونو ته کډه وکړي. دغه کډوالي هم پخپله یو ډول خطرونه رازیږولای شي، دبیلګې په توګه په اندونیزیا، مالیزیا، استرالیا او نورو ځایونو کې ددغو چینایي کډوالانو پرېنسټ چینایي ضد شخړې را پیدا شویدي. په چین کې کور دننه چینایان دهغه هیواد غیر چینایي اولسونه چې دچین لخوا تر اشغال دمخه یې خپل مستقل حکومتونه درلودل ، یو په بل پسې اسیمیلیشن کوی یا په بله خبره په ځان کې یې حل کوی، مثلا د تبت، یوګور، اورومچي او نورو قومونو وګړي.

**د بشر دحقوقو څخه تیرې:**

امریکا، لویدز او دبشر دحقونو ځینې نړیوال سازمانونه د چین دولت پدې تورن کوي چې پخپل هیواد کې دبشر دحقونو څخه سر رغړوي. هر کال د څو زرو تنو اعدامول، دځینو سیاسي ازادیو محدودیت او داسې نور که څه هم دچین داخلي خبره ده، خو امریکا او لودیز یې هغه څه بولي چې دبشر دحقونو تر پښو لاندې کول دي. دوی وایې چې دا ډول قوانین کیدلای شي ددې لامل شي چې خارجیان هم په چین کې د ورته جرم پر وخت په اعدام محکوم شي .
په ۲۰۱۰ کال کې کله چې دبشر دحقونو یوه مبارز چینایي **لیو سیاو بو** ته دنوبل جایزه ورکول کیده، دچین لخوا څخه بایکوټ لودیزوالو او امریکا په کلکه وغانده او دنړۍ میډیا ډیر پرې مصروفه شوه . د چین دفشار له مخې دا کار د روسیې په ګډون د ۱۷ نورو هیوادو لخوا هم بایکوټ شو چې لودیزوالو ته په زړه پورې خبره نه وه.
د لومړۍ برخې پای

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ